# د حج فضیلتونه او ګټې او د هغې ځینې احکام

**لغة البشتو**

فضائل الحج، وبعض أحكامه وفوائده

www.mahadsunnah.com /
www.sarhaan.com

# د حج فضيلتونه او ګټي او د هغې ځيني احکام

**دا يو څو لنډې خبرې دي د حج د فضيلتونو، ګټو او د هغې د ځينو احکامو په اړه:**

### ❖ حج څه وخت فرض شو؟

صحيح خبره داده چې حج د هجرت په نهم کال فرض شو، او دا د وفدونو کال وچې په هغې کې سورت آل عمران هم نازل شوی وچې الله تعالی پکې فرمايلي و: **{وَلله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا}. او د الله تعالى له طرفه په خلکو باندې د بيت الله حج فرض دی، هغه څوک چې د دې توان ولري چې لاره ورته ومومي}.**

### ❖ د حج حکم:

د حج حکم فرض دی، او دا د دين له ارکانو څخه دی او دليل يې هغه دي چې پورته په مبارک آيت کې ذکر شو, او همدارنګه په سنتو کې هم ورته اشاره شوې ده.

لکه له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **"اسلام په پنځو شيانو جوړ شوی دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رسول دی، او لمونځ قايمول، زکات ورکول، حج کول او د رمضان روژه نيول"** [رواه البخاري (٨) او مسلم (١٦)]

### ❖ آيا حج سمدستي فرض دی؟

هو، حج سمدستي فرض دی، او دليل يې پورتني مبارک آيت دی، چې په شرعي اوامرو کې اصل دی او په سنت کې هم شته چې په دې خبره دلالت وکړي:

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته خطبه کې وويل: "اى خلکو، الله تعالى پر تاسو حج فرض کړى دى، نو حج وکړئ". [( دا حديث امام مسلم ۱۳۳۷ روايت کړى)]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې غواړي حج وکړي، ژر دې وکړي، ځکه انسان ته کله ناروغي رسيږي ، کله سورلۍ هم وکېدلاى شي، او ضرورتونه هم پيښېدلاى شي." [دا روايت ( امام ابو داود (۱۷۳۲) ابن ماجه (۲۸۸۳) او احمد (۱۸۳٦) روايت کړى) ]

او په روايت امام احمد کې راغلي دي (۲۸۶۴) "د حج فريضه په جلتۍ سره وکړئ ، ځکه چې له تاسو څخه هيڅوک نه پوهيږي چې څه ورته پيښ کيږي".

[او دغه دواړه روايتونه يو بل لره حسن درجې ته رسوي ، وګورئ ارواء الغليل د شيخ البانى (۴/ ۱۶۸)]

- **او حج په ټول عمر کې يو ځل فرض دى:**

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته خطبه وکړه او ويې فرمايل: " اى خلکو، الله تعالى پر تاسو حج فرض کړى دى، نو تاسو حج وکړئ. يو سړي وويل: هر کال اى د الله رسوله، رسول الله غلى شو تر دې چې درې ځله يې وويل، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: که ما ويلى وى چې هو نو دا به واجب شواى وى. او بيا به تاسو نه وى اداء کړى" بيا يې وويل: ما پرېږدئ تر څو چې ما پرېښودلي استئ. بېشکه هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو د خپلو ډيرو پوښتنو او د خپلو پيغمبرانو په اړه د اختلاف له امله هلاک شول". [دا روايت امام مسلم (۱۳۳۷) روايت کړى]

- **د حج فضيلت:**

دحج فضیلت په اړه ډیر احادیث راغلي, ځینې د هغې نه:

✓ **لومړی حدیث:**

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ ویې ویل: **"په الله تعالی او د هغه په رسول ایمان راوړل, بیا یې ویل: بیا څه؟ ویې ویل: د الله تعالی لپاره جهاد کول, بیا یې وویل: بیا څه؟ هغه وویل: قبول شوی حج"،** [دا حدیث امام بخاري (۲۶) او مسلم (۸۳) روایت کړی]

**د مبرور حج معنی داده:**

_ چې په حلالو پیسو وشي.

_ چې په حج کې د فسق , ګناه , بې حیایی، نه ځان وساتې . _چې د سنت مطابق حج وکړې. _ چې په حج کې ریاکاري مقصد نه وي, بلکې اخلاص یې پکې مقصود وي, چې وروسته وریسې ګناهونه ونه کړي.

✓ **دویم حدیث:**

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي: **"چا چې د الله تعالی د رضا لپاره حج وکړ او فحش خبرې پکې نه کړې , نو هغه به د ګناهونو نه داسې پاک راوګرځي لکه په هغه ورځ چې مور زیږیدلی وي"** [دا روایت امام بخاري (١٤٤٩) او مسلم (١٣٥٠) روایت کړی].

✓ **دریم حدیث:**

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **" عمره تر عمره د هغه ګناهونو کفاره ده چې د دوی په منځ کې شوي وي او د قبول شوی حج له جنت پرته بل اجر نشته"** [دا حدیث امام بخاري (١٦٨٣) او مسلم (١٣٤٩) روایت کړی].

✓ **ځلورم حدیث:**

د مؤمنانو مور عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی فرمايي: **ما ووېل: ای دالله رسوله: آيا موږ له تاسو سره جهاد ونه کړو؟ هغه وفرمايل: ستاسو لپاره تر ټولو غوره جهاد حج دی، قبول شوی حج دی. عايشه رضی الله عنها وفرمايل: زه به د رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې وينا وروسته حج پرېنږدم".** **[ دا حديث امام بخاري (١٧٦٢) روايت کړی]**

✓ **پنځم حديث:**

له عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: **"او حج مخکيني ټول ګناهونه لمنځه وړي "** **[دا حديث امام مسلم (١٢١) روايت کړی]**

✓ **شپږم حديث:**

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: **" د حج او عمره ترمنځ ادامه وکړئ ځکه چې دا کار فقر او ګناهونه داسې لمنځه وړي , لکه څرنګه چې بټی د اوسپنې , او سرو زرو او سپين زرو زنګ لمنځه وړي"** **[ترمذي (٨١٠) او نسائي (٢٦٣١) . دا حديث شيخ البانی رحمه الله په السلسلة الصحيحة (١٢٠٠) کې صحيح بللی دی]**

✓ **اووم حديث:**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: **" د الله تعالی په لار کې غازي ، حج کوونکی اوعمره کوونکی، د الله تعالی ميلمانه دي هغوی ته بلنه ورکړه نو دوی بلنه قبوله کړه ، او هغوئ چې څه غوښتل ورته يې ورکړل"**

[دا حديث امام ابن ماجه (۲۸۹۳) روايت کړی.او شيخ الباني حسن ګرځولی په خپل کتاب «السلسلة الصحيحه» (۱۸۲۰) کې].

❖ **د حج ګټې: الله تعالی فرمايي: ( ليشهدوا منافع لهم) ژباړه: دې لپاره چې دوی دخپلو ګټو شاهدا ووسي )**

✓ **ديني ګټې دي:**

هغه د الله تعالی رضامنتيا، د ټولو ګناهونو نه پاکېدل، همدا راز عظيم اجرونه چې هغه نه حاصليږي مګر په هغه ځايونو کې, لکه يو د مثال په توګه يو لمونځ په مسجد حرام کې د يو لک لمونځونو برابر دی,همدا طواف د صفا مروا ترمنځ سعی د هغه ځای پرته بل ځای کې نه کيږي.

✓ **دارنګه له ګټو نه داهم ده** چې مسلمان پکې يو بل سره ليدنه ده, او د هغوی له احوالو څخه خبرېدل دي, او علماو سره ملاقات دی, او د هغوی نه استفاده کول, او خپلې ستونزې له هغوی سره شريکول.

✓ **دنيوي ګټې:** اما دنيوي ګټې ځينې له هغې څخه: سوداګري ده، او ټول هغه د کسب طريقې چې حج پورې تړاو لري.

✓ **د حج حکمتونه او هغه چې په نفس باندې اغيز کوي.**

**اول حکمت:** د حج لپاره سفر کول انسان ته الله تعالی او اخرت رايادوي لکه څرنګه چې د حج په سفر کې خلک نږدې خپلوان او کورنۍ او اولاد او هيواد پريږدي دارنګه د اخرت په سفر کې هم دغه نږدې دوستان پريښودل کيږي.

**دويم حکمت:** لکه څرنګه چې د حج سفر لپاره چې مقدسې خاورې ته ځي نو د هغې لپاره توخه تياروي نو دا خبره دې راياده کړي چې د اخرت سفر لپاره هم توخه ضروري ده . او په دې هکله الله تعالى فرمايي: **(او ځان سره توخه يوسئ او تر ټولو ښه توخه تقوى ده).**

**دريم حکمت:** او لکه څرنګه چې سفر د عذاب يوه برخه ده، همدارنګه د اخرت سفر هم دى، بلکې ددې پړاوونه له هغې هم سخت دي , د انسان مخې ته د ساه وتل دي، مرګ دى, قبر دى, حشر دى, حساب دى د اعمالو تلل دي, پل صراط دى جنت دى جهنم دى, خوشبخته هغه دى چې له اور څخه خلاصى ومومي.

**څلورم حکمت:** او کله چې حاجي د احرام جامې واغوندي نو هغه ته کفن پرته څه نه ياديږي، او دايې دې خبرې ته راکاږي چې بايد ګناهونه نور پريږدي، او لکه څرنګه يې چې جامې وويستلې همدارنګه بايد ګناهونه هم پريږدي، او لکه څرنګه يې چې دوه سپينې جامې واغوستلې همدا رنګه بايد خپل زړه صفا کړي، او ګناهونو سره يې تور نکړي.

**پينځم حکمت:** او کله تلبيه ووايي (لبيک اللهم لبيک ) ددې مطلب دادى ې دغه انسان د خپل رب خبرې ته يې لبيک وويل، نو بيا ولې لاتراوسه پورې په ګناهونو کې پروت دى، او د حال په ژبه وايي چې ما ګناهونه هم پرېښودل، همدا يې وخت دى.

**شپږم حکمت:** او د احرام پرمهال له محظوراتو څخه ځان ساتل، او خپل ځان په تلبيه او ذکر مشغوله کول، دا د مسلمان حال بيانوي چې بايد مسلمان داسې ژوند تېر کړي. او په دې کې يې تربيت کيږي او ځان عادتول دي. چې دلته به ځان له مباحاتو نه هم ساتې. ځکه چې الله تعالى پرې دلته حرام کړي، نو بيا به نورو وختونو کې څرنګه د الله تعالى محرماتو ته په هر وخت او ځاى کې راتګ وکړي.

**ووم حکمت:** او بيت الله ته ننوتل چې الله تعالى د ټولو خلکو لپاره د امن ځای ګرځولی. بنده د قيامت په ورځ امن رايادوي. چې دغه امن نه حاصليږي مګر کوښښ او مشقتونو سره. او تر ټولو ښه امن ورکوونکي عمل هغه توحيد دی. او په دې هکله الله تعالى فرمايي: **( الذين ءامنوا ولم يلبثوا ايمانهم بظلم أولئك لهم الامن وهم مهتدون) (او چا چې ايمان راوړ او بيا يې ايمان سره ظلم يعنې شرک ګډ نکړ دهغوی لپاره به امن وي او دوی کامياب دي).**

**أتم حکمت:**

او د حجر اسود ښکلول چې دا لومړی ځيز دی چې حج عمره پرې شروع کيږي چې دا حاجي ته د سنت پر تعظيمت رببيت کوي، او دا چې خپل قاصر عقل په شرعه وړاندې نه کړي، او په دې پوه شي چې الله تعالى خلکو ته کوم شريعت راوړی د حکمت او خېر نه خالي نه دی، او د الله تعالى په بندګۍ خپل نفس تربيت وکړي، او په دې هکله عمربن خطاب رضی الله عنه فرمايي کله يې چې حجر اسود ښکل کړه: **"زه پوهيږم چې ته يوه تيږه يې، نه چاته ضرر رسولای شي او نه نفع، او که چېرې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه وای لېدلای چې ته يې ښکل کړې ما به نه وای ښکل کړای".** [( بخاري ١٥٢٠) ( مسلم ١٧٢٠)]

**نهم حکمت:** او په طواف کې خپل پلار ابراهيم عليه السلام راياد وي، او دا چې کعبه يې جوړه کړه دې لپاره چې دخلکو لپاره د عبادت او دامن ځای وګرځي، او دا چې خلک يې ددې کور حج ته راوبلل، چې بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم راغی او هغه هم دې کور ته خلک راوبلل، دا رنګه موسى او يونس او عيسى عليهم السلام ترې هم حج کړی، نو دا کور د دغو انبياو د يادولو شعار و، او ددوی د ملاقات ځای و او څرنګه

به نه وي په داسې حال کې چې الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته ددې کور حوړولو او تعظیم کولو امر کړی دی.

**لسم حکمت:** او د زمزم اوبه څښل ورته د الله تعالی په خلکو باندې د دې مبارکو نعمت وریادوي، چې ملیونونو خلکو د وختونو په تېرېدو سره  ترې اوبه څښلي، او لا تر اوسه وچې شوي نه دي، او د څښلو په وخت کې یې دعا ته هڅولي د وجې ددې حدیث نه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **"د زمزم اوبه چې هر به نیت وڅښلی شي نیت به یې الله پوره کړي"**

**[(ابن ماجه  ۳۰۶۲) دې حدیث ته امام ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب زاد المعاد کې حسن ویلی]**

**یولسم حکمت:** او د صفا او مروا تر منځ سعي ورته د اسماعیل علیه السلام د مور د ابراهیم علیه السلام بی بی هاجرې هغه امتحان وریادوي چې د اوبو پلټلو لپاره یې د صفا او مروا ترمنځ منډې وهلې تر څو داسې څوک ومومي چې د خپل کوچني ماشوم اسماعیل علیه السلام لپاره اوبه راپیدا کړي او له دې مصیبته یې وژغوري، کله چې هاجرې صبر وکړو او خپل رب ته یې رجوع وکړه نو باید سړی خو خامخا تکلیفونه وزغمي، او صبر وکړي، نو سړی چې کله د ښځې هغه جهاد او مجاهده رایاده کړي نو ډېر تکلیفونه پرې اسان شي، او ښځو باندې هم ډېر مشقتونه آسان شي،

**دولسم حکمت:** او په عرفات غونډئ باندې ودرېدل حاجي ته د محشر د ورځې بېروبار وریادوي، او دا چې حاجي په زرګونو او لکونو خلکو کې په مشقت او ستړیا کې وي، نو د قیامت په ورځ به د هغه څه حال وي کله چې ټول انسانان پخپېله لغړ، او نا سنته حالت کې راجمع شوي وي، او دغه یوه ورځ به پنځوس زره کاله وي؟

**دیارلسم حکمت:** او د شیطانانو په ویشتلو پر مهال مسلمان ځان د الله تعالی په هر ډول طاعت عادي کوي چې انسان باید د الله تعالی بندګي وکړي اګر که په حکمت او علت یې نه پوهیږي، او دا د الله تعالی د محض عبودیت اظهار دی.

**څوارلس حکمت:** او د قرباني کول ورته هغه لویه پېښه وریادوي کله چې ابراهیم علیه السلامد الله تعالی امر تطبیقاوه چې خپل هغه تنکی زوي داسې عمر کې حلالوه چې دده لپاره په کارونو کې مرستندوی، او دا چې هغه مینې له اعتبار نشته کله چې د الله تعالی د اوامرو خلاف وي، او دا هم حاجي ته ښايي چې اسماعیل علیه السلام څرنګه د خپل رب تابعداري ته غاړه کېښوده او ویې ویل: **"ای پلار جانه وکړه هغه څه چې تاته پرې امر شوی ته به ان شاء الله ما ووینې له صبر کووونکو څخه".**

**پینځ لسم حکمت:** او کله چې له احرامه ووځي او هغه څه ورته حلال شي کوم چې په ده حرام شوي و، نو د صبر په پایله ورته تربیت ورکړی شي، او دا چې له هرې سختۍ وروسته اساني وي, او د الله تعالی د اوامرو منلو پایله خوشحالي وي , او په دې خوشحالۍ نه پوهیږي مګر هغه څوک چې د ایمان خوند یې څکلی وي, لکه روژه دار چې په روژه ماتي خوشحالیږي ,او هغه څوک چې د شپې په اخره برخه کې راپاڅي او لمونځ وکړي.

**شپاړ لسم حکمت:** او کله چې د حج اعمالو خلاص شي او هغسې حج وکړي څرنګه چې الله تعالی پرې امر کړی وي او خوښ کړی یې وي، نو الله تعالی نه امید لري چې ټول ګناهونه یې معاف کړي لکه څرنګه چې ورسره رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره په دې وینا وعده کړې:
**" چا چې حج او نه یې پکې د شهوت خبرې وکړې او نه یې پکې د فسق خبرې وکړي داسې به له ګناهونو راوګرځي لکه څرنګه چې په هغه**

**ورځ له موره زیږېدلی وي".** [( بخاري ۱۴۴۹) (مسلم: ۱۳۵۰)] او د هغه د ژوند نوی مخ خلاص شي چې له ګناهونو او خطاګانو پاک وي.

**ولسم حکمت:** او کله چې خپل اهل او بچیانو ته راستون شي او هغوی دده په راتګ خوشحاله شي دا ورته هغه لویه خوشحالي وریادوي کوم چې جنت کې یو بل سره مخامخ کیږي، او په دې خبره پوه شي چې تر ټولو لو زیان دا دی چې انسان خپل اهل او بچیان د قیامت په ورځ وبایلي. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: **"وو ایه یقینا حقیقي زیانمند هغه څوک دي چې خپل ځانونه او نفسونه خپل اهل د قیامت په ورځ وبایلي خبردار همدا ښکاره تاوان دی"** ( سورة الزمر ۱۵ ).

د الله تعالی نه دعا کوم چې د هغه د تابعدارۍ کولو توفیق راکړي. او د هغه کور ته مو بوځي او د هغه په فرض شوو احکامو راتګ وکړو.

**وصلی الله تعالی علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه اجمعین**

---

www.mahadsunnah.com / www.sarhaan.com